مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق

۲۰۲۶/۰۳/۰۲

# د انتظار خیمه

## قصه په سلو ټکو کي

له ګاونډه د راشړل سویو مهاجرو په کمپ کي راټول شکېدلي وطنوال د ماښام د اذان په تمه په یوه لویه خیمه کي تنګ تنګ سره ناست ول.

په دوړو کلک یوه ځوان وویل:

«ښه به وي چي په ګډه روژه مات و نه کړو، هغوی بمبار پر کمپونو کوي چي ډېر خلګ ووژني!»

په منځ کي ناست بل خیرن سړي وویل:

«خدای په روژه کي اسماني شیطانان بند کړي، خو د ځمکي د شیاطینو تور لښکر پر موږ را مات کړي.»

د الوتکو پښهاری سو، د بمونو غړمبونه. هیڅ ځوک و نه ښوریدی، چي وځغلي چیري به ولاړ سي؟

محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ